بسم الله الرحمن الرحیم

د بحښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالى:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرًا﴾

سوره الأحزاب: **۳۳**

پاک الله فرمايي:

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اې د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

# دولس امامانعلیهم‌السلام

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمایل:

زۀ تاسو تـه دوه درانـه او ارزښـتناک څیزونـه پرېـږدم: یـو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیـرې پـه دې دوو مـو منګولې ولګولې نو هیڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه بـه یو له بله جدا کیـږي نـه تـر دې چې د حوض (کوثر) پـه غـاړه مـا تـه راورسیږي.

(صحیح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـاکـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# دولس امامان علیهم السلام

ليکوال:
علامه سيد مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بيتو نړيواله ټولنه

نام کتاب: على مائدة الكتاب والسنة جلد٦ ؛ يكون لهذه الامه اثنا عشرقيماً

نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري

تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت عليهم السلام – اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم:**

دولس امامان عليهم السلام

لیکوال: علامه سید مرتضیٰ عسکري

تیارونکې: د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې د ژباړې څانګه

مترجم: سرفراز علي مهدي

ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ایم اے عربي

تصحیح: انور شاهین خانخېل

وروستۍ کتنه: ډاکټر عبدالرحیم درانی

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نیټه: ۱٤۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱٦م)

دچاپ وار: ورومبی

شمېر: ۲۰۰۰

چاپ خانه: اسراء

خپروونکې: د اهلبیتو نړیواله ټولنه

ISBN: ۹۷۸-۹٦٤-۵۲۹-۰

www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک


د دې امت امامان دولس تنه دي> ۱۱

دولس امامان علیهم السلام په تورات کښې> ۲۱

د تیرو حدیثونو لنډیز او خلاصه> ۲۹

د دې حدیث په تفسیر کښې د عالمانو حېرانتیا> ۳۳

په سني کتابونو کښې د دولسو امامانو نومونه> ۴۹

له رسول الله صلی الله علیه وآله نه روسته د دولسو امامانو علیهم السلام پیژندګلو> ۵۳

## د دې امت امامان دولس تنه دي

**د امامانو عليهم السلام د شمېر په حقله د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله منصوص او روښانه حدیثونه**

**د امامانو عليهم السلام د شمېر حدیث**

پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله فرمایلي دي چې له ما نه پس به دولس کسه امامان وي. دا داسې موضوع او خبره ده چې د سني ورونړو مسندونو او صحیحو کتابونو لیکوالانو چې نومونه یې لاندې راځې په خپلو کتابونو کښې له هغهٔ بزرګوار څخه روایت کړې ده:

الف- مسلم په خپل صحیح کښې له جابر بن سمره څخه روایت کوي چې وې ویل:

وامې وریدل چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وفرمایل: «دادین به تل او د قیامت تر ورځې پورې ژوندے وي ان تردې چې

زمادولس خليفه ګان په تاسو کښې وي، دا ټول خليفه ګان او امامان له قرېشو څخه دي.»

په يو بل روايت کښې راغلي دي چې:«تل به د خلقو کارونه سم او صحيح وي.»

په نورو روايتونو کښې داسې راغلي چې:«تر هغه وخته پورې چې دولس خليفه ګان راشي.»

په سنن ابو داود کښې کښې راغلي چې:«تر هغه وخته پورې چې د دې دولسو خليفه ګانو سيورے ستاسو په سرونو قايم وي.»

په يو بل حديث کښې راغلي چې وې فرمايل:«د دولسو کسانو تر خاتمې پورې.»[1]

---

۱. صحيح مسلم، ټوک۳، مخ۱۴۵۳، حديث ۱۸۲۱، دا حديث مو ځکه انتخاب کړ چې جابر په خپله دا ليکلے دے. صحيح بخاري، ټوک۴، مخ۱۲۵، کتاب الاحکام؛ سنن ترمذی، باب ما جاء فی الخلفاء من ابواب الفتن؛ سنن ابو داود، ټوک۳، مخ۱۰۶، کتاب المهدی؛ مسند طيالسی، حديثونه

او په صحیح بخاري کښې وائي چې: له پېغمبر اکرمﷺ مې واورېدل چې فرمايل يې:«دولس کسان د هغوي سرداران او حاکمان دي.» راوي وائي: پېغمبراکرمﷺ له دې وروسته يې څه وفرمايل خو زۀ پرې پوهـ نه شوم پلار مو وويل چې وې فرمايل:«ټول له قرېشو څخه دي.»

په بل يو روايت کښې داسې وائي: بيا پېغمبر اکرمﷺ څه وفرمايل خو زۀ پرې پوهـ نۀ شوم له خپل پلاره مو وپوښتل چې پېغمبراکرمﷺ څه وفرمايل؟ پلار مې وويل چې وې

---

۱۲۷۸ـ۷۲۷؛ مسند احمد،ــ ــ ټوک۵، مخونه ۸۶ ـ۹۰، ۹۲ـ۱۰۶، ۱۰۱ـ۱۰۸؛ کنزالعمال، ټوک۱۳، مخ۲۶ ـ۲۷؛ حلية الاولياء ابو نعيم، ټوک۴، مخ۳۳۳.، جابر بن سمرة بن عامرى د سعد بن ابىوقاص د خور زوى (خوريۀ) دى د هجرى له اويايم کال وروسته په کوفې کې وفات شو. صحاح سته کتابونو خاوندانو ۱۶۴ حديثونه له هغه روايت کړي دي د هغه ژوند ليک په اسدالغابة، تقريب التهذيب او جوامع السيره، مخ۲۷۷ کښې راغلے دے.

فرمایل هغه ټول دولس کسان له قرېشو څخه دي.[۱]

په بل روایت کښې داسې راغلي چې وې فرمایل:«کوم کسان چې له هغوي سره دښمني کوي نو د هغو کسانو دښمني به هغوي ته څۀ تاوان ونۀ رسوي.»[۲]

ب- په یو بل روایت کښې داسې راغلي دي چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وفرمایل:

«لا تَزالُ هذِهِ الأُمّة مُستقیما أمرها، ظاهرة عَلی عَدوّها، حتّی یُمضی مِنهُم إثناعَشَرَ خَلیفة کُلُّهُم مِن قُریش، ثمّ یَکون المَرج أو الهَرَج.»

د دې امت کارونه به تل سم او سالم وي او تل به په دښمنانو بریالي وي ان تردې چې زما دولس خلیفه گان چې ټول له قرېشو څخه دي، خپل ټول عمرونه تیر کړي نو پس له دې به

۱. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۸؛ مستدرك الصحیحین، ټوک۳، مخ۲۱۷.

۲. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۸.

فساد، لانجې، فتنې او شخړې رامنځته کيږي.[۱]

ج- په بل يو روايت کښې داسې راغلي دي چې وې فرمايل: «د دې امت دولس کسه واکمنان دي که هيڅوک هم د هغوي مرسته ونۀ کړي نو هغوي ته څه تاوان نۀ رسيږي او هغه ټول له قريشو څخه دي.»[۲]

د- او په يو بل روايت کښې يې فرمايلي دي:

«تر څو چې په دې امت کښې دولس کسان واکمن وي او ولايت پرې ولري د دې امت کارونه به په سمه روان وي.»[۳]

ه- د انس له قوله روايت کوي چې هغه حضرت وفرمايل:

۱. منتخب کنزالعمال، ټوک۵، مخ۳۲۱؛ تاريخ ابن کثير، ټوک۶، مخ۲۴۹؛ تاريخ الخلفاء، سيوطی، مخ۱۰؛ کنزالعمال، ټوک۱۳، مخ۲۲؛ الصواعق المحرقه، مخ۲۸.
۲. کنزالعمال، ټوک۱۳، مخ۲۷ او منتخب کنزل العمال، ټوک۵، مخ۳۱۲.
۳. شرح صحيح مسلم، نووی، ټوک۱۲، مخ۲۰۲؛ الصواعق المحرقه، مخ۱۸؛ تاريخ الخلفاء، سيوطی، مخ۱۰.

«دا دين به تر هغه وخته پورې نۀ نابودېږي تر څو چې د قرېشو دولس کسان موجود وي خو کله چې هغوي ټول له دنيا لاړ شي، نو ځمکه به هم، ټول خلق غرق کړي (ونغري).»[1]

و- په يو بل روايت کښې يې داسې فرمايلي چې:

«ترڅو چې هغه ټول دولس کسان پاڅون وکړي د دې امت کارونه به په سمه توګه او برابر وي او تل به برے مومي، هغه دولس، ټول له قرېشو څخه دي.»[2]

ز- احمد بن حنبل او حاکم او نورو له مسروق څخه روايت کړے دے چې وې ويل: يوه شپه له عبدالله بن مسعود سره ناست ؤم او هغۀ مونږ ته د قران شريف تعليم راکاوۀ چې يو سړي پوښتنه وکړه: اے د عبدالرحمان پلاره! آيا له پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله دې پوښتلي دي چې د دې امت څو کسان به په خلافت رسي؟ عبدالله وويل: له کله نه چې عراق ته

۱. کنزالعمال، ټوک۱۳، مخ۲۷.
۲. هماغه.

راغلے یم، له تا مخکښې بل کس دا سې پوښتنه نۀ ده کړې، بیا یې وویل: مونږ دا خبره پخپله له [پېغمبراکرمﷺ] څخه پوښتلې وه او هغه حضرت په ځواب کښې فرمایلي وو چې: «هغوي د بني اسرائیلو د نقیبانو د شمېر هومره دولس کسان دي.»[۱]

۱. مسند احمد، ټوک۱، مخ۳۹۸-۴۰۲؛ احمد شاکر په وړومبي ۳۹۸ وضاحت کښې وائي؛ د هغه سندونه سم او صحیح دي. مستدرك حاکم او د هغه خلاصه، ټوک۴، مخ۵۰۱؛ فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۹؛ مجمع الزوائد، ټوک۵، مخ۱۹۰؛ الصواعق المحرقه، ابن حجر، مخ۱۲؛ تاریخ الخلفا، سیوطی، مخ۱۰؛ جامع الصیفر، سیوطی، ټوک۱، مخ۷۵؛ کنز العمال، متقی، ټوک۱۳ مخ۲۷ وایي: طبرانی او نعیم بن حماد هم دا حدیث په فتن کتاب کښې ذکر کړے دے. فیض القدیر، ټوک۲، مخ۴۵۸؛ تاریخ ابن کثیر، ټوک۷، مخونه ۲۴۸تر ۲۵۰، په باب ذکر الأئمة الاثنى عشر الذين كلهم من قريش کښې، له ابن مسعود نه نقل کړے دے.

ح- په بل روايت کښې ابن مسعود وائي چې: پېغمبر اکرمصلی الله علیه وآله وفرمايل:

«له ما وروسته به د خليفه ګانو شمېر، د موسیٰ د اصحابو هومره وي.»[۱]

ابن اثير وائي: دا ډول يو حديث مو له عبدالله بن عمر او حذيفه او ابن عباس نه هم نقل کړے دے.[۲]

ليکوال وائي: نه پوهېږم چې د ابن عباس له روايته، د ابن کثير څه مراد دے ښائي هغه حديث يې مراد وي چې حاکم حسکاني له ابن عباس څخه نقل کړے او همداسې نورو هم نقل کړے دے.

تېر روايتونه په ډاګه او څرګنده توګه وائي چې«د امامانو شمېر دولس دے او ټول له قرېشو څخه دي.» او امام

۱. تاريخ ابن کثير، ټوک۶، مخ۲۴۸؛ کنز العمال، ټوک۱۳، مخ۲۷؛ شواهد التنزيل حسکاني، ټوک۱، مخ۴۵۵، حديث ۶۲۶.

۲. ابن کثير، ټوک۶، مخ۲۴۸.

علي عليه السلام په خپلې وينا کښې له «قريش» ټکي مقصد او مراد په دې روايتونو کښې بيان کړے دے چې فرمائي:

«ټول امامان له قريشو څخه دي او د هاشم په ځاے يې [اهل البيت عليهم السلام] ذکر کړي دي، [ولايت او خلافت] بې له هغوي په نورو روا نۀ دے او له دوي نه بغېر بل څوک د ولايت او خلافت وړ نۀ دي.»[۱] او هم دا رنګ يې وفرمايل:

«اللّهمَّ بلى لا تَخلُوا الأَرضَ مِن قائمٍ للّهِ بِحُجّة إمّا ظاهراً مشهوراً أو خائِفاً مَغموراً لِئَلاّ تَبطُلَ حُجَجُ اللّهِ و بَيِّناتِهِ... »

پاکه خدايه! هو، ځمکه به هيڅکله د خداے لپاره په حق باندې له پاڅون کوونکي خالي پاتې نۀ شي، [دا امام قائم،] به يا برياليے وي او ځرګند او يا به اندېښمن وي او پټ به وي

۱. نهج البلاغه، خطبه ۱۴۲.

په دې خاطر چې د خدا ے حجتونه او روښانه نښې نښانې ختمې نهٔ شي.[1]

۱. ينابيع المودة، شيخ سليمان حنفی په سلم باب کښې، مخ۵۲۳؛ احياء علوم الدين، غزالي، ټوک۱، مخ۴؛ حلية الاولياء، ټوک۱، مخ۸۰ ليدېږ.

# دولس امامان‌ﷺ په تورات کښې

ابن کثیر وائي: په هغه تورات کښې چې اوس مهال د اهل کتابو په لاسو کښې موجود دے یوه موضوع راغلې ده چې معنا او مضمون یې داسې دے: «خدا‌ے پاک ابراهیم ته د اسماعیل زیرے ورکړ او وې فرمایل: اسماعیل ته به پراختیا ورکړم او د هغۀ نسل او اولاد به پراخه کړم او په هغوي کښې به دولس کسان د هغوي مشران او چارواکي جوړ کړم.»

او بیا وائي چې: «ابن تیمیه وائي: د کومو کسانو د راتلو په حقله چې زیرے ورکړے شوے دے هماغه کسان دي چې د جابر بن سمره په حدیث کښې راغلي دي او ټاکلي شوي دي چې د دې امت تر مینځ خپارۀ دي او دا چې تر هغه به قیامت نه راځي چې تر څو دا ټول په وجود کښې نه وي راغلي، او ډېر هغه یهودیان چې اسلام یې قبول کړے دے دا غلطي یې کړې ده چې ګومان یې کړے دے چې دوي هغه کسان دي چې رافضي فرقه [دولس امامیشیعیان ] د هغوي لوري

ته بلنه ورکوي او خپله هم د هغو دولسو پیروي کوي.»[۱]

لیکوال وائي: کوم زیري ته چې اشاره وشوه هغه په اوسني تورات کښې په «سفر پیدائش» باب [۱۷، شماره ۱۸ ـ ۲۰] کښې شته چې اصلي عبري یې داسې ده:

«قی لیشماعیل بیرختی أوتو قی هفریتی أوتو قی هربیتی بمئود شنیم عسار نسیئیم یولید قی نتتیف لگوی گدول.»[۲]

ترجمه: اسماعیل مو مبارک ګرځولے او په رښتیا چې هغه مو برخمن کړے او د هغه (زوزات) به زیاتوم او دولس امامان به د هغهٔ له زوزاته او نسله وي او هغه به په یو لوے او ستر امت کښې بدلوم.

د تورات دا برخه دې ته اشاره کوي چې یوازې د اسماعیل په اولاد کښې د خلقو مبارکي، پراخوالے او زیاتوالے راځي.

۱. تاریخ ابن کثیر، ټوک۲، مخونه ۲۴۹ ـ ۲۵۰.
۲. عهد قدیم، سفر التکرین، باب ۱۷، ش ۲۰، مخونه۲۲ ـ۲۳.

د «شنیم عسار» ټکي معنا یعنې: دولس تنه، چې د «عسار» ټکې په ترکیبي اعدادو کښې داسې راځي چې معدود یې مذکر وي[1] او دلته معدود «نسیئیم» دے او مذکر دے او په آخر کښې د «یم» په زیاتیدو سره د جمع معنا ورکوي د هغه واحد او مفرد «ناسي» ده یعنی: امام او پیشوا او مشر.[2]

خو حضرت ابراهیم ته د خدا ے تعالیٰ وینا په هغې برخه کښې هم یعني دا عبارت «فی نتنیف لگوی گدول»، د «فی نتنیف» ټکې مرکب دے له «فی» چې حرف عطف دے او «ناتن» چې فعل دے او معنا یې دا ده چې جوړوو یې او «یف» چې ضمیر دے او د فعل په آخر کښې راغلے دے اسماعیل ته گرځي، یعنی: هغه مو [داسې] جوړ کړ.[3] کړ.[3] خو دا ټکے «گوی» د امت او خلقو په معنا دے،[4] او

۱. المعجم الحدیث: عبری ـ عربی، مخ۳۱۶.
۲. هماغه، مخ۳۲۰.
۳. هماغه، مخونه ۸۴ او ۳۱۷.
۴. المعجم الحدیث، عبری ـ عربی، مخونه ۸۴ـ۳۱۷.

«گدول» د «غټ او عظیم»[۱] په معنا دے او د ټولې جملې مطلب دا شو چې: «هغه مو لوے او ستر اُمت وګرځوۀ.»

له دې ټولو خبرو او جملو نه څرګندیږي چې د اسماعیل په اولاد او نسل کښې «کثرت او برکت» څخه مراد، یوازې د خداے ګران رسول حضرت محمد صلی الله علیه وآله او د هغه حضرت اهلبیت علیهم السلام دي او هم هغوي د اسماعیل له نسله دي. ځکه چې خداے پاک حضرت ابراهیم ته وفرمایل چې: د نمرود له وطنه ووځه او شام ته لاړ شه هغه حضرت هم، خپلې مېرمن بي بي ساره او حضرت لوط سره د خداے په حکم فلسطین وطن ته راغے.

خداے پاک د ابراهیم په مال کښې ډېر برکت واچوۀ، ابراهیم وویل: «خدایه! زه بې اولاده سړے یم دومره مال سره څه وکړم؟» خداے پاک ورته وحي وکړه: «زۀ به ستا اولاد دومره زیات کړم چې د ستورو له شمیره به هم زیات

۱. هماغه.

وي.» په دغه وخت کښې هاجره بي بي د ساره بي بي وينځه وه او هغه يې ابراهيم ته ډالۍ کړه، هاجره بي بي له ابراهيم سره له نزديکت نه وروسته حامله او بارداره شوه او اسماعيل يې وزيږوۀ. کله چې اسماعيل وزيږېد نو د ابراهيم عمر ۸۶ (شپږ اتيا) کاله ۇ.[1]

قرآن شريف د ابراهيم د دعا او له خدايه د هغۀ خواست په ترڅ کښې دې حقيقت ته اشاره کړې ده چې فرمائي: ابراهيم وويل:

﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةً

---

۱. تاريخ يعقوبي، ټوک۱، مخونه ۲۴-۲۵، خپرندويه مؤسسه فرهنگ اهلبيتعليهم‌السلام، قم.

مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ﴾؛[۱]

"پروردگارا! له اولاده مو څو کسان په اوچې دښتې او بیابان کښې ستا د قدرمن کور څنګ ته پریښودل چې نمونځ قائم کړي پاکه خدایه! د خلقو زړونه هغې لورې ته وګرځوې او هغوي ته له میوو څخه روزي عطا کړې دې لپاره چې شکر ادا کړي."

دا ایت په دې تاکید ټینګار کوي چې ابراهیم خپل ځینې اولاد چې اسماعیل او د هغهٔ بچیان وو په مکه مکرمه کښې د خپل کور څنګ ته ځاے ورکړ او له خداے یې وغوښتل چې د تاریخ په اوږدو کښې د خلقو هدایت او رحمت د هغهٔ د اولاد او زوزات په غاړه کیږدي، پاک الله هم د هغوي دعوت او بلنه قبوله کړه او د خلقو هدایت

۱. سوره ابراهیم: ۳۷.

کار يې د هغهٔ د اولاد يعنې حضرت محمدصلی الله علیه وآله او دولسو امامانوعليهم السلام په غاړه واچوهٔ(ملت ابراهيم).

امام باقرعليه السلام په دې حقله فرمايلي دي چې: «نَحنُ بَقيّةُ تِلكَ العِترة وَ كانَت دَعوة ابراهيم لَنا»؛

د هغه د زوزات باقي پاتې کسان مونږه يوو او د ابراهيم دعا زمونږ لپاره وه.[1]

---

۱. هغه څه چې د تورات په اصلي عبري کښې راغلي دي، او مونږ هغه د استاد احمد الواسطى له مقالې څخه چې د سازمان تبليغات اسلامي په توحيد مجلې کښې چاپ شوې ده راخستې دي، تهران، شميره **۵۴** [مخ۱۲۷ -۱۲۸].

## د تیرو حدیثونو لنډیز او خلاصه

د تیرو بحثونو خلاصه او د هغو نتیجه، دا کیږي چې: «د دې امت د امامانو علیهم السلام شمېر دولس کسان دے چې یو بل پسې به راځي او د دولسم امام د عمر په ختمېدو سره به د دې دنیا عمر هم خاتمې ته ورسي.»

په وړومبي حدیث کښې راغلي وو چې:

«دا دین به د قیامت تر ورځې پورې او تر هغه وخته پورې چې دولس خلیفه ګان په تاسو کښې موجود وي، ټینګ او قائم وي.»

دې حدیث د دې دین د پاتې کیدو موده ټاکلې او هغه یې د قیامت ورځې سره محدوده کړې ده او د دې امت د امامانو علیهم السلام شمیر یې دولس تنه بیان کړے دے.

په پنځم حدیث کښې راغلي چې:

«دا دين به تر هغه وخته پورې نۀ نابوديږي تر څو چې د قرېشو دولس کسان موجود وي خو کله چې هغه ټول له دنيا لاړ شي، نو زمکه به هم، ټول خلق غرق کړي (ونغري).»

دا حديث هم، د دين بقا او موجوديت د دولس امامانوعليهم السلام د عمر تر خاتمې پورې تائيدوي او د هغو دولسو کسانو د عمر ختمېدل به د دنيا ختميدل وي.

په اتم حديث کښې هم د امامانوعليهم السلام شمېر يوازې دولس کسان ذکر شوے دے او فرمايلي يې دي چې:

«پس له ما به د خليفه ګانو شمير د موسیٰ د اصحابو هومره وي (يعني دولس تنه).»

دا حديث په دې دلالت کوي چې له رسول اللهصلی الله علیه وآله نه پس به يوازې دولس خليفه ګان خلافت کوي او بل هيڅوک به خليفه جوړ نۀ شي.

د دې حديث الفاظ په څرګند او روښانه دلالت سره وائي: چې «د خليفه ګانو شمېر يوازې دولس تنه دے او پس له هغوي به په دنيا کښې ګډ وډي او د زمکې نابودي او قيامت راځي.»

نور هغه ټکي چې داسې روښانه نه دي د دې ټکو په وسیلې سره هغه هم روښانه کیږي.

نو بس له همدې امله لازمه او ضروري ده چې په دولسو امامانوعلیهم السلام کښې د یو امام عمر دومره اووږد وي چې د عام انسانانو له عمر څخه به ډیر زیات وي.

لکه څنګه چې اوس د دولسم امام حضرت امام مهديعلیه السلام چې د پیغمبراکرمصلی الله علیه وآله دولسم ځاے ناستے او جانشین دے همدا ډول دے یعني زیات عمر لري.

# د دې حديث په تفسير کښې د عالمانو حېرانتيا

د سني ورونړو ديني عالمان له «دولسو امامانو» څخه مراد چې په دې روايت کښې راغلي دي په حېرت او انديښنې کښې اچولي دي او ګډې وډې نظريې يې لرلي دي.

د سنن ترمذي شرح کوونکے ابوبکر ابن عربي وائي:

مونږ چې کله له رسول اکرم‌ﷺ نه روسته خليفه ګان وشمېرل نو ومو ليدل چې: ابوبکر، عمر، عثمان، علی، حسن او معاويه، يزيد، معاويه بن يزيد، مروان، عبدالملك مروان، وليد، سليمان، عمربن عبد العزيز، يزيد بن عبد الملك، مروان بن محمد بن مروان، سفاح وغېره دي.

او پس له دوي مو خپلې زمانې پورې اويشت عباسي خليفه ګان وګڼل:

«که په ظاهره هم له دوي څخه «دولس کسان» وشمیرو نو وروسته خلیفه یې سلیمان بن عبد الملك دے، خوکه په حقیقي معنا کښې خلیفه په نظر کښې وساتو نو یوازې پینځه کسان پاتې کیږي چې څلور خلیفه ګان (خلفاې راشده) او بل عمر بن عبد العزیز. نو بس زه د دې حدیث په مطلب او معنا سم نه پوهیږم.»[1]

قاضي عیاش د دې خبرې په ځواب کښې چې وائي: له دې شمېر(دولس) زیات کسانو ته خلافت رسیدلے دے وائي: «دا سم اعتراض او نیوکه نۀ ده ځکه چې پیغمبرﷺ داسې نه دي فرمایلي چې یوازې دولس کسان به ولایت او حکومت ته رسي که څه هم دومره کسان په خلافت رسیدلي دي او که چرې له دې زیات کسان خلافت ته ورسیږي نو دا

۱. په سنن ترمذي د ابوبکر ابن عربی شرحه، ټوک۹، مخونه ۶۸ـ ۶۹.

څۀ خنډ نه دے (ياني وائي چې لږ تر لږه به دولس رسيږي او که زيات شي نو خير دے).[۱]

سيوطی د دې کس په ځواب کښې وېنا نقل کړې ده چې وائي:

«د حديث مطلب او مراد، «دولس تنه خليفه ګان» د اسلام په ټولې مودې او تر قيامت ورځې پورې دي چې به د حقو عاملان وي که څه هم يو بل پسې نه وي.»[۲]

هغه په فتح الباري کتاب کښې داسې وائي:

«يقينا له دې دولسوکسانو څلور خليفه ګان (خلفاے راشده) تېر شوي دي او باقي پاتې هم بايد د قيامت له ورځې وړاندې پوره شي.»[۳]

---

۱. په صحيح مسلم د نووي شرحه، ټوک۱۲، مخونه ۲۰۱تر ۲۰۲؛ فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۹. د متن عبارت له هغه څخه دے په مخ۳۴۱ کښې هم راغلي دي.

۲. تاريخ الخلفاء، سيوطی، مخ۱۲.

۳. فتح الباري، ټوک۲، مخ۳۴۱؛ تاريخ الخلفا، مخ۱۲.

ابن جوزي وائي:

«هم له دې امله کوم ځاے کښې چې يې فرمايلي دي چې: «بيا به فساد او شخړې رامينځه کيږي له فتنو مراد هغه فتنې دي چې د قيامت له ورځې مخکښې تر سره کيږي لکه د دجال خروج او راوتل او همدا رنګ له هغه وروسته نورې فتنې.»[۱]

سيوطي وائي: « په دې «دولسو کسانو کښې» څلور خليفه ګان او حسن او معاويه او عبدالله بن زبير او عمر بن عبدالعزيز، دا اته کسان واکمن شوي وو او دا هم احتمال شته چې مهدي عباسي هم دوي ته ورزيات کړو چې هغه د عباسيانو په خيال، د عمر بن عبدالعزيز په شان ؤ۔او همدا رنګ طاهر عباسي هم د عدل غوښتنې په خاطر ورزيات کړو، بيا هم دوه کسان کميږي او اميد شته چې يو کس له

۱. هماغه.

**هغو هم حضرت مهدي عليه السلام وي چې د حضرت محمد صلى الله عليه وآله له اهل بېتو عليهم السلام څخه د ے.»**[۱]

او هم دا ډول ويل شوي دي چې:

«د حديث مطلب دا د ے چې هغه «دولس کسان» د اسلام د مضبوطيه او د خلافت د عزت په دوران کښې وي، له هغو کسانو څخه به وي چې د هغوي په وخت کښې به اسلام ډېر مضبوط او د اقتدار خاوند وي او ټول مسلمانان به پرې راټول شي.»[۲]

۱. الصواعق المحرقه، مخ۱۹ او تاريخ الخلفاء، سيوطى، مخ۱۲. په دې بنياد، د خلفاؤ د مکتب د پېروکارو لپاره به دوه امامان منتظر وي چې يو پکښې مهدى عليه السلام د ے حال دا چې د اهل بېتو عليهم السلام د مکتب دپيروکارو يوازې يو منتظر امام د ے چې هغه امام مهدي عليه السلام د ے.

۲. نووي د صحيح مسلم په شرحې، ټوک۱۲، مخونه ۲۰۲تر۲۰۳ کښې دې موضوع ته اشاره کړې ده او ابن حجر په فتح الباري، ټوک۱۷، مخونه ۳۳۸تر ۳۴۱ کښې او سيوطي په تاريخ الخلفاء، مخ۱۰ کښې هم بيان کړې ده.

بيهقي وائي: «دا شمېر [دولس كسان] د وليد بن يزيد بن عبدالملك تر زمانې پورې خلافت ته ورسيدل او بيا فتنې او شخړې شروع شوې او بيا د عباسيانو حكومت واكمن شو او دا چې وائي چې دې تعداد ورزيات كړي په دې خاطر دي چې كوم صفت ته په حديث كښې اشاره شوې هغه يې پرېښې دے او يا هغه كسان چې له فتنې وروسته واكمن شوي دي له هغوي يې ګڼلي دي.»[1]

او هم دا رنګ ويل شوي دي چې: «په كومو كسانو امت اجتماع كړې وه هغه: درې خليفه ګان او بيا د حضرت عليؑ د صفين ترجنګ پورې چې بيا د حَكميت خبره رامنځته شوه او معاويه ته خلافت وركړے شو. بيا له معاويه سره د امام حسنؑ د صلحې له امله اجتماع وشوه او له هغۀ وروسته د هغۀ زوے يزيد، اوحسينؑ هم خلافت ته له رسيدو مخكښې قتل شو له يزيد نه پس يې اختلاف وكړ حتیٰ چې د زبېر د زوے له وفاته وروسته يې،

---

۱. تاريخ ابن كثير، ټوک۲، مخ۲۴۹، چې له بيهقي يې نقل كړې.

په عبدالملك بن مروان اجتماع وکړه (او مسلمانان راټول شول) او بیا یې د مروان په څلورو زامنو اجتماع وکړه د هغه څلور زامن: ورومبے ولید او بیا سلېمان او بیا یزید او بیا هشام. چې په دې اجتماع کښې د سلیمان او یزید تر مینځ عمر بن عبد العزیز فاصله او خلل واچوۀ او دولسم خلیفه هم ولید بن یزید بن عبدالملك ؤ چې خلقو له هشامه وروسته په هغه اجتماع وکړه او هغۀ څلور کاله حکومت وکړ.»[1]

په همدې وجه د دې دولسو کسانو خلافت، په دې دلیل چې مسلمانانو پرې اجتماع وکړه صحیح دے، او پېغمبر اکرمﷺ مسلمانانو ته د دې دولسو خلیفه ګانو د خلافت او له هغوي د پیروۍ کولو زیرے ورکړے ؤ!

حجر د دې سپیناوي په باره کښې وائي: «دا غوره او بهترین توجیه او سپیناوے دے.»

او ابن کثیر وائي:

---

۱. تاریخ الخلفاء، مخ۱۱؛ الصواعق المحرقه، مخ۱۹؛ فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۴۱.

«په کومه لاره چې بېهقي لاړ دے او ځينو کسانو هم هغه سره موافقه کړې ده يعني دا چې د حديث مطلب او مراد دا دے چې د وليد بن عبدالملک تر زمانې پورې پر له پسې خليفه ګان راځي، مراد يې فاسق خليفه ګان دي ځکه چې په تېرو بحثونو کښې مو د وليد مذمت وکړ نو دا لاره چې بېهقي خپله کړې ده غلطه ده او د منلو نۀ ده. ځکه چې د وليد تر زمانې پورې چې د کومو خليفه ګانو نومونو ته اشاره وشوه هغه له «دولسو کسانو زيات دي، دليل يې دا دے چې: د ابوبکر، عمر، عثمان او علي﵇ خلافت يقيني دے... له هغوي وروسته حسن بن علي﵇ دے ځکه چې علي﵇ هغه خپل وصي ګرځولے ؤ او د عراق خلقو له هغه سره بيعت کړے ؤ.... چې بيا دواړو سوله وکړه بيا د معاويه زوے يزيد بيا د يزيد زوے معاويه بن يزيد بيا مروان بن حکم بيا د هغۀ زوے عبدالملك بن مروان او وليد بن عبدالملك، بيا سليمان بن عبدالملك، بيا عمر بن عبدالعزيز او له هغۀ نه پس يزيد بن عبدالملك او بيا هشام بن عبدالملك، چې دا ټول پينځلس کسان جوړيږي او بيا وليد بن يزيد بن عبدالملك، او که له عبدالملک وړاندې د

ابن زبیر حکومت هم وګڼو نو بیا شپاړس کسان جوړیږي، نو په دې حساب سره، یزید بن معاویه په دولسو خلیفه ګانو کښې راځي او عمر بن عبد العزیز چې ټول مشران د هغه په مدح او ستائلو اتفاق لري او په خلفاے راشده کښې یې بلي او ټول خلق د هغهٔ عدل تاییدوي او د هغهٔ د حکومت وخت غوره وخت ګڼي او حتیٰ شیعه هم د هغهٔ پر ښهٔ والي اعتراف کوي، هغه له دولسو خلیفه ګانو خارجیږي او پکښې نهٔ حسابیږي.

او که څوک دا ووائي چې: زهٔ یوازې هغه کسان په دولسو خلیفه ګانو کښې شمیرم چې امت ورباندې اجتماع کړې وي نو د دې خبرې لازمه دا راځي چې علي بن ابی‌طالب او د هغهٔ ګران زوے په دولسو کسانو کښې حساب نهٔ شي، ځکه چې په دغو دوو کسانو ټولو خلقو اجتماع نه وه کړې، دلیل یې هم دا دے چې د شام ټولو خلقو له هغو دواړو سره بیعت نه ؤ کړے.»

او هم دا رنګ وائي: «ځښې سپیناوي او وضاحت کوونکو، معاویه او د هغهٔ زوے یزید او نمسے معاویه بن یزید په

دولسو کسانو کښې ګڼلے دے او د مروان او ابن زبير زمانه يې پکې نۀ ده راوستے ځکه چې په هغوي هم امت اجتماع نۀ ده کړې.»

د دې نظريې په بنياد هم وايو: «په دې نظريه کښې درې واړه خليفه ګان، بيا معاويه، بيا عبدالملك او بيا وليد بن سلېمان بيا له هغۀ وروسته عمر بن عبدالعزيز او بيا يزيد او بيا هشام حسابيږي چې ټول لس کسان جوړيږي او له هغه وروسته وليد بن يزيد بن عبدالملك يو فاسق کس دے چې د دې نظريې له امله هم امام عليؑ او د هغه ګران زوے حسنؑ په دولسو کسانو کښې نۀ راځي او دا خبره د شيعه او سني وروڼو د امامانو د نظريې په خلاف ده.»[1]

ابن جوزی په کشف المشکل کتاب کښې د دې سپيناويو په ځواب کښې دوه(۲) نورې وجې بيان کړې دي:

وړومبی - «پېغمبرﷺ په يو حديث کښې خپل ځان او له اصحابو وروسته دغو پېښو ته اشاره کړې ده چونکه د

۱. تاريخ ابن کثير، ټوک۷، مخونه ۲۴۹او ۲۵۰.

اصحابو حکم، د پېغمبر اکرمﷺ له حکم سره ترلے دے نو نتيجه اخلو چې له حکومتونو مراد د هغه حضرت له صحابه ؤ څخه وروسته حکومتونه دي او داسې ښکاري چې په خپل بيان سره د بني اميه ؤ خليفه ګانو شمير ته اشاره کوي،او د هغه حضرت دا خبره چې «لا يزال الدين» يعنى: ولايت به تر هغه پورې چې دولس خليفه ګان حکومت ته ورسي نو پس له هغوي به بيا حالت بدتر او ګډ وډ شي. چې په دې حساب سره د بني اميه ؤ وړومبنے خليفه يزيد بن معاويه او وروستے يې مروان حمار دے چې دا هم ديارلس کسان جوړيږي، او عثمان او معاويه او ابن زبير به پکې نۀ شي شميرلې ځکه چې هغو ي په خپله صحابه ؤ کښې دي او که مروان بن حکم هم چې د هغه په صحابي توب کښې اختلاف دے او يا دا چې هغه د عبدالله بن زبير په مقابل کې مغلوب شو او خلقو په عبدالله بن زبير اجتماع وکړه- له دوي ؤباسو نو بيا «دولس تعداد» سم راځي، او د بني اميه

ؤ د خلافت نه پس هم، ډيرې فتنې او خونړي جنګونه رامنځته شول ان تر دې چې د بني عباسو حکومت ټينګ شو او وضعيت او حالت بالکل بدل او سم شو.»[۱]

ابن حجر په فتح الباری کتاب کښې دا استدلال د منلو وړ نه دے بَللې.

دويم ـ ابن جوزي «دويمه وجه» له هغه کتابه چې ابوالحسين بن منادي د امام مهديعليه السلام په حقله ليکلے دے داسې وائي:

«ممکنه ده چې دا خبره هغه (مهدي) سره تړلې وي چې په آخري زمانه کښې به پاڅون کوي ځکه چې ما په دانيال کتاب کښې ليدلي دي چې: «کله چې امام مهديعليه السلام په حق ورسي نو د سبط اکبر له نمسيو ځخه پينځه کسان به حکومت ته اورسي، بيا پينځه کسان د سبط اصغر له نمسيو ځخه به حکومت ته رسي او له هغوي روسته به

۱. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۴۰،له کشف المشکل کتابه د ابن جوزي په نقل سره.

وروستے کس د ځان لپاره یو وصي ټاکي او بیا به یې زوے حکومت ته رسي. نو په دې ترتیب سره دغه دولس کسان به واکمنان کیږي چې په دوي کښې هر یو امام او مهدي دے. وائي چې په نورو روایتونو کښې راغلي چې: «... پس له هغه به دولس کسان چې: شپږ کسان به د امام حسن علیه السلام له اولاده او پینځه کسان به د امام حسین علیه السلام له اولاده او له دوي نه علاوه به یو بل کس حکومت ته رسي. او کله چې وروستے کس په حق ورسیږي نو په دنیا کښې به فساد زیات شي.»

ابن حجر په خپل کتاب صواعق کښې د دې حدیث تفسیر کړے دے چې وائي:

«یقینا دا یو چټې او خیالي حدیث دےچې د اعتماد وړ نهٔ شي ګرځیدې!»[1]

یوه بله ډله وائي:

۱. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۴۱؛ الصواعق المحرقة، مخ۱۹.

«قوي ګومان کيږي چې هغه حضرتﷺ، په دې حديث کښې له ځانه وروسته د هغو عجيبه پېښو خبر ورکړے او وائي چې داسې فتنې به رامنځته کيږي چې خلق به دومره ګډ وډ شي چې يو وخت به د دولسو کسانو واکمني راشي او دولس ډلې به جوړې شي او که له دې نه بغېر بل څه يې مراد وې نو فرمايل به يې: «دولس مشران او واکمنان دي چې داسې به کوي» خو چونکه د هغو لپاره يې څۀ صفت نه دے بيان کړے نو داسې پوهيږو چې دا ټول دولس کسان به، په يو وخت کښې وي...»[1]

ويل شوي دي چې په پينځمې هجري پيړۍ کښې په «اندلس» کښې يوه پېښه تر سره شوه چې شپږو کسانو په يو وخت کښې خپل ځانونه خليفه ؤبلل، په دې سربيره د مصر واکمن، د بغداد عباسي خليفه او داسې نور د خلافت

۱. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۸.

ادعا کوونکي، له علویانو څخه او دغه شان له خوارجو څخه هم د خلافت دعوا کوونکي موجود وو.[۱]

ابن حجر د دې سپیناوي په حقله وائي: دا د داسې کس وېنا ده چې د حدیث په اړه څه معلومات نهٔ لري خو یوازې د هغه څه په اړه معلومات لري کوم چې په بخاري کښې په لنډه توګه ذکر شوي دي.»[۲] او همدا رنګ وائي: «په یوه زمانه او وخت کښې د هغوي شتون د اختلاف سبب او بیلتون دے او د حدیث مراد هیڅ کله دا نهٔ شي کیدې.»[۳]

لیکوال وائي:

په دا ډول، د اهل سنتو عالمان د دې تېرو حدیثونو په تفسیر کښې په یوې نظریې نه دي متفق شوي او سرګردانه پاتې شوي دي بې له دې چې په هغو حدیثونو یې هم

---

۱. شرح نووی، ټوک۱۲، مخ۲۰۲؛ فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۹.
۲. فتح الباری، ټوک۱۲، مخ۳۳۸.
۳. هماغه، مخ۳۳۹.

سترګې پټې کړې دي چې په کومو حدیثونو کښې پېغمبر اکرمصلی الله علیه وآله د دولس کسانو نومونه اخېستي دي. دا ځکه چې هغه ټول حدیثونه د سنیانو د مکتب له سیاست او نظریې سره مخالف دي. دا روایتونه د اهل بیتو محدثانو په خپلو کتابونو کښې داسې سندونو سره ذکر کړي دي چې سند یې صحابه کرامو ته رسي چې هغوي له رسول اللهصلی الله علیه وآله نقل کړي دي او مونږ په راتلونکې برخې کښې لږ شان هغه حدیثونه راوړو چې دواړو فرقو هغه په خپلو کتابونو کښې بیان کړي دي.

# په سني کتابونو
# کښې د دولسو امامانو نومونه

**الف- امام جویني**[1] **له عبدالله بن عباس روایت کوي چې وې ویل:** رسول اکرمﷺ:

**«أَنا سَيّدُ النَّبيّن وَ علیّ بنِ أَبيطالب سَيّدُ الوَصيين، وَ إنّ أَوصِيائي بَعدي إثنا عَشَرَ، أوَّلُهم علیّ بنِ أبيطالب وَ آخِرُهُم المَهدیّ»؛**

---

۱. ذهبی، په خپلې مشهورې ترجمې تذکرة الحفاظ، مخ**۱۵۰۵** د هغه په حقله ویلي دي چې: د محدیثینو یوازنے ویاړ، فخر الاسلام، صدر الدین ابراهیم محمد بن حمویه جوینی شافعی، شیخ صوفیه، د دې روایت په نقلولو او راټولې کښې ډېر لطف او مهرباني کړې ده او غازان شاه د هغه په لاس اسلام قبول کړ.

زۀ د پېغمبرانو پیشوا او علی بن ابی‌طالبؑ د وصیانو مشر او آقا دے بېشکه چې پس له ما، زما دولس وصیان دي چې وړومبے یې علي بن ابي طالبؑ او وروستے یې مهديؑ دے.

ب- امام جویني بیا هم په خپل سند سره له ابن عباس څخه روایت نقلوي چې وې ویل چې د خدا ے ګران رسولﷺ وفرمایل:

«په تحقیق سره زما ځاے ناستي او وصیان او په خلقو باندې د خدا ے پاک حجتونه له ما وروسته «دولس» کسان دي، چې وړومبے یې زما ورور او وروستے یې زما زوے دے. وویل شول: اے د خدا ے ګران رسوله! ستا ورور څوک دے؟ وې فرمایل: علی بن ابی‌طالبؑ. بیا وویل شول: زوے دې څوک دے؟ وې فرمایل: «مهديؑ دے. هغه کس چې زمکه به له عدل او انصافه ډکوي لکه څنګه چې له ظلم او زیاتي ډکه شوي وي. قسم په هغه ذات چې زۀ یې زیرے ورکونکے او ویروونکے او په حقه رالیږلے یم، که د دنیا یوه ورځ هم پاتې شي خدا ے پاک به هغه ورځ دومره

اوورېده کړي چې زما فرزند مهدي عليه السلام به، په هغه ورځ پاڅون وکړي او روح الله عيسیٰ بن مريم به له اسمانه راکوز شي او د هغهٔ (امام مهدي عليه السلام) په امامت کښې به نمونځ تر سره کړي. او زمکه به د الله تعالی په نور سره روښانه شي او واکمني به يې له ختيځه تر لويديځه پراخه وي.»

ج- جويني بيا هم خپل سند سره روايت نقلوي چې راوي وويل چې وامې وريدل چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وفرمايل:

«أَنَا وَ عَلِيّ وَ الحَسن وَ الحُسين وَ تِسعةٌ مِنْ وُلْدِ الحُسين مُطهَّرُون مَعصُومون».

زهٔ او علي عليه السلام، حسن عليه السلام، حسين عليه السلام او د حسين عليه السلام نهه زامن ټول پاک او پاکيزه او معصوم يوو.[1]

په تېرو څو پېړيو کښې په سني مکتب واکمن سياسيت په دې قائم ؤ چې دا ډول حديثونه د مسلمانانو لاسو ته ونهٔ

۱. د الف، ب او ج حديثونه په کتاب فرائد السمطين: د تهران د مرکزي پوهنتون کتابتون خطي او لاس سره ليکلي کتاب په ۱۱۲۴، ۱۲۹۰ او ۱۲۹۱، شمارو کې پر ۱۲۰ پاڼه راغلې.

رسي او هغه همداسې پټ پاتې شي. او دا رښتيا او حقيقت د دې مکتب له پيرکارو څخه پټ پاتې شي چې هغوي د دې لپاره ډېر سخت جهاد کړے ؤ چې ځو نمونې يې مونږ په خپل بل کتاب معالم المدرستين کښې بيان کړي دي چې د خلفاو د مکتب ځينې اقدامات د پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله له نصوصو سره مخالفت لري خو دلته يې د هغو حديثونو د بيانولو ځاے نۀ دے خو يوازې هغه روايتونه ذکر کوو چې د دولسو امامانو د پېژندګلو په حقله دي او د رسول الله مبارک صلی الله علیه وآله هغه روايتونه او حديثونه، چې په متواتره توګه او پرله پسې يې د دولسو کسانو نومونو ته يې اشاره کړې يا يې روښانه بيان کړي دي.

## له رسول الله صلی الله علیه و آله نه روسته د دولسو امامانو علیهم السلام پیژندګلو

وړومبی امام: امیرالمؤمنین علي علیه السلام، د پلار نوم یې ابوطالب بن عبدالمطلب بن هاشم او مور یې فاطمه بنت اسد بن هاشم.

د هغه حضرت کنیت: ابولحسن و الحسین، ابو تراب.

د هغه حضرت لقب: وصی، امیرالمؤمنین.

د هغه حضرت زوکړه: د «عام‌الفیل» په دیرشم کال کښې په خانه کعبې بیت الله الحرام،[1] کښې وزیږید.

---

۱. د امام علي علیه السلام مور بي بي فاطمه بنت اسد، په داسې حال کښې چې ماشوم یې په خیټه ؤ او د کعبې طواف یې کوۀ چې د زیږیدو دردونه ورته شورو شول چې دغه وخت هغې بي بي ته د خانه کعبې دیوال وچادۀ او هغه ورننوته او هلته په خانه کعبه کې

د هغه حضرت وفات: د هجري په څلوېښتم کال کښې د عبدالرحمن بن ملجم (چې له خوارجو څخه ؤ) په لاس شهید شو، او له کوفې نه بهر په نجف اشرف کښې خاورو ته وسپارل شو.

دویم امام: حسن بن علي بن ابی‌طالب علیه السلام.

مور یې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله لور بي بي فاطمه زهرا علیها السلام ده.

د هغه حضرت کنیت: ابو محمد.

او لقب یې: سبط اکبر، مجتبیٰ.

د هغه حضرت زوکړه: د هجرت په دریم کال د روژې د مبارکې میاشتې په پینځلسمه نیټه په مدینه منوره کښې.

---

یې علي علیه السلام وزیروؤ له زیاتو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ مستدرك، ټوک۳، مخ۴۸۳؛ تذکرة خواص الامة، مخ۱۰؛ مناقب ابن مغازلی، مخ۷.

د هغه حضرت شهادت: د هجرت د پنځوسم کال د ربیع الاول د میاشتې په پینځویشتمه نیټه په شهادت ورسید او د مدینې منورې په بقیع هدیره کښې دفن شوے دے.

دریم امام: حسین بن علی بن ابی‌طالب علیه السلام.

مور یې د پېغمبر اکرمﷺ لور بي بي فاطمه زهرا علیها السلام ده.

د هغه حضرت کنیت: ابو عبدالله.

لقب یې: سبط، شهید کربلا.

زوکړه: د هجرت په څلورم کال د شعبان د میاشتې په دریمه نیټه په مدینه منوره کښې وزیږید.

د هغه حضرت شهادت: د هجرت د یو شپیتم (۶۱) کال د محرم د میاشتې په لسمه نیټه سره د خپلې کورنۍ او ملګرو په کربلا کښې د یزیدیانو په لاس په شهادت ورسېد د هغه حضرت مزار د عراق په کربلا ښار کښې دے.[۱]

---

۱. مراجعه وکړئ:د امامانو د ژوند لیکونه او د علي علیه السلام او د هغه د دوو زامنو حسن علیه السلام او حسین علیه السلام، د ۴۰، ۵۰ او ۶۰ هجري

څلورم امام: علی بن الحسینعليه السلام.
د مور نوم يې غزاله يا شاه زنان دے.
د هغه حضرت کنیت: ابوالحسن.
او لقب يې: زین العابدین او سجاد ؤ.
زوکړه: د هجرۍ په ۳۳ یا ۳۷ یا ۳۸ کال، په مدینه منوره کښې.
د هغه حضرت شهادت: د هجرت په ۹۴ کال کښې په شهادت ورسېد او په بقیع هدیره کښې د خپل ترۀ امام حسنعليه السلام څنګ ته دفن کړے شوے دے.[1]

کال پېښې په تاریخ طبري، ابن اثیر، ذهبي او ابن کثیر،او هم دا رنګ، د هغه د ژوند حال په تاریخ بغداد، تاریخ دمشق، استیعاب، اسدالغابه، اصابة او طبقات ابن سعد، (نوي چاپ) کتابونو کښې راغلے دے.
۱. مراجعه وکړئ: تاریخ ابن کثیر او ذهبی، په ۹۴ هجري کال پېښو کښې او هم دا رنګ په طبقات ابن سعد، حلیة الاولیا، وفیات الأعیان او تاریخ یعقوبی، ټوک۲، مخ۳۰۳ او تاریخ

پینځم امام: محمد بن علي علیه السلام.

د مور نوم یې اُم عبدالله د امام حسن علیه السلام لور وه.

کنیت: ابو جعفر.

لقب: باقر.

زوکړه: د هجرت په **۵۷** کال په مدینه منوره کښې.

د هغه شهادت: د هجرت په ۱۱۷ کال کښې په مدینه منوره کښې شهید کړے شو او په بقیع هدیره کښې د خپل پلار زین العابدین علیه السلام څنګ ته دفن کړےشوے دے.[1]

مسعودي، ټوک۳، مخ ۱۲۰ کښې د امام علیه السلام په ژوند لیک کښې راغلي دي.

۱. مراجعه وکړئ: تذکرة الحفاظ، ذهبی؛ وفیات الاعیان؛ صفوة الصفوة؛ حلیة الاولیاء؛ تاریخ یعقوبی، ټوک۲، مخ۳۲۰؛ تاریخ الاسلام، ذهبی؛ تاریخ ابن کثیر، د ۱۱۵ او ۱۱۷ او ۱۸۸ کال پېښو کښې د امام باقر علیه السلام د ژوندد حال په بیانولو کښې.

شپږم امام: **جعفربن محمد** علیه السلام.

د مور نوم یې ام فروه د محمد بن ابي بکر د زوی د قاسم لور وه.

کنیت: ابو عبدالله.

لقب: صادق.

زوکړه: د هجری په ۷۳ کال کښې په مدینه منوره کښې وزیږید.

د هغهٔ شهادت: د هجری په ۱۴۸ کال کښې شهید کړے شو او په بقیع هدیره کښې د خپل پلار امام محمد باقر علیه السلام په څنګ کښې دفن کړے شو.[۱]

اوم امام: **موسیٰ بن جعفر** علیه السلام.

د مور نوم یې بي بي حمیده ده.

---

۱. مراجعه وکړئ: په حلیة الاولیاء؛ وفیات الاعیان؛ تاریخ یعقوبي، ټوک۲، مخ۳۸۱؛ تاریخ مسعودي، ټوک۳، مخ۳۴۲ کښې د امام صادق علیه السلام د ژوند د حالاتو په بیان کښې.

کنیت: ابوالحسن.

لقب: کاظم.

زوکړه: په ۱۲۸ هجري کال کښې په مدینه منوره کښې دنیا ته راغی.

د هغه شهادت: په ۱۸۳ هجري قمري کال کښې د هارون رشید خلیفه د بغداد بند (زندان) کښې په شهادت ورسېد او د قرېشو په قبرستان کښې (د بغداد اوسنۍ لویدیځې برخه) چې نن سبا په کاظمین مشهوره ده دفن کړے شو.[1]

اتم امام: علي بن موسیٰ عليه‌السلام.

د مور نوم یې: خیزران.

د هغه حضرت کنیت: ابوالحسن.

لقب: رضا.

---

۱. مراجعه وکړئ: په مقاتل الطالبیین؛ تاریخ بغداد؛ وفیات الاعیان؛ صفوة الصفوة؛ تاریخ ابن کثیر، ټوک۲، مخ۱۸؛ تاریخ یعقوبی، ټوک۲، مخ۴۱۴ د امام کاظم عليه‌السلام په ژوند لیک کښې.

زوکړه: په **۱۵۳** هجري قمر کال کښې په مدینه منوره کښې وزیږید.

د هغه شهادت: په **۲۰۳** هجري کال کښې شهید کړے شو او د خراسان په طوس [ایران،مشهد] کښې مدفون دے.[۱]

نهم امام: **محمد بن علي**عليه السلام.

د مور نوم يې: سکینه.

کنیت: ابو عبدالله.

لقب: جواد.

زوکړه: په **۱۹۵** هجري کال کښې په مدینه منوره کښې وزیږید.

---

۱. مراجعه وکړئ: تاریخ طبري، ابن کثیر؛ تاریخ الاسلام ذهبي؛ وفیات الاعیان، د **۲۰۳** هجري کال په پیښو کښې؛ تاریخ یعقوبی، ټوک۲، مخ**۴۵۳**؛ مسعودی، ټوک۳، مخ۴۴۱.

د هغه د شهادت نیته: په **۲۲۰** هجرى کال کښې په بغداد کښې شهید شو او د خپل نیکۀ **موسى بن جعفر** عليه السلام څنګ ته دفن شو.[۱]

**لسم امام: على بن محمد** عليه السلام.

د مور نوم: **سمانه مغربیه**.

کنیت: **ابوالحسن عسکري**.

لقب: **هادی**.

زوکړه: په **۲۱۴** هجري کال کښې په مدینه منوره کښې وزیږید.

د هغۀ شهادت: په **۲۵۴** هجري کال کښې شهید کړے شو

۱. مراجعه وکړئ: تاریخ بغداد، ټوک۳، مخ۵۴؛ وفیات الاعیان؛ شذرات الذهب، ټوک۲، مخ۴۸؛ مسعودي، ټوک۳، مخ۴۲۴.

او د عراق په سامرا ښلار کښې خاورو ته وسپارل شو.[۱]

یولسم امام: حسن بن عليؑ

د مور نوم: ام ولد بنام سوسن.

کنیت: ابو محمد.

لقب: عسکري.

زوکړه: په **۲۳۱** هجری کال کښې په سامرا کښې وزیږید.

د هغهٔ شهادت: په **۲۶۰** هجری کال کښې په شهادت ورسید او په سامرا کښې یې دفن کړ.[۲]

---

۱. مراجعه وکړئ: تاریخ بغداد، ټوک۱۲، مخ**۵۶**؛ وفیات الاعیان؛ تاریخ یعقوبي، ټوک۲، مخ۴۸۴؛ مسعودي، ټوک۴، مخ۸۴.

۲. مراجعه وکړئ: وفیات الاعیان؛ تذکرة الخواص؛ مطالب السؤول فی مناقب آل الرسول، شیخ کمال طلحه شافعی [تاریخ:**۲۵۴** هجری]؛ تاریخ یعقوبي، ټوک۲، مخ**۵۰۳**.

**دولسم امام: حضرت حجت بن الحسن ـ عجل الله فرجه الشريف** (امام مهدي علیه السلام) (خدا ے دې د هغه امام په ظهور بيړه وکړي).

د مور نوم: ام ولد بنام نرجس يا صيقل.

کنيت: ابو عبدالله، ابو القاسم.

لقب: قائم، منتظر، خلف، مهدي، صاحب الزمان، بقيه الله.

زوکړه: په **۲۵۵** هجرى کال کښې په سامرا کښې.

دغه حضرت له «دولسو امامانو» څخه آخري امام دے چې تر اوسه پورې ژوندے دے او کله چې خدا ے وغواړي نو هغه به د خدا ے په حکم سره پاڅون کوي او ټوله دنيا به له عدل او انصافه ډکوي.

يو ضروري او مهم يادابنت!

له تېرو حديثونو څخه يو حديث کښې داسې راغلي وو:

«... دولس تنه خليفه ګان به په هغوي تيرېږي او له هغوي نه پس به فتنې، لانجې او شخړې رامنځته کيږي.»

او په بل حديث کښې راغلي وو.

«تر څو چې له قرېشو دولس تنه باقي پاتې وي دا دين به تل مضبوط او مستحکم وي او کله چې له دنيا لاړ شي نو زمکه به خپل اوسيدونکي ونغري.(ؤبه يې خوري).»

دا دوه حديثونه په دې دلالت کوي چې د رسول اللهصلى الله عليه وآله له اهلبېتوعليهم السلام څخه له دولسو امامانو او اخري دولسم امام نه پس به دا دنيا ختميږي.

له همدې امله ضروري ده چې له دولسو کسانو د يو امام عمر دومره زيات وي چې دې دنيا خاتمې ته ورسيږي او دا هغه خبره ده چې اوس د دولسم امام مهدي آل محمد ، محمد بن الحسن العسکريعليه السلام د عمر اوږد والي سره ثابته شوې ده ځکه چې هغه ټول حديثونه يوازې په دې دولسو امامانو صادق او تطبيقيږي او په نورو دلالت نه کوي.

ښه به دا وي چې دلته د تورې او قلم د خاوند ستر خوشحال بابا هغه کلام وړاندې کړم چې پکې يې د مبارکو حديثونو په رڼا کښې د خداے دګران رسولصلى الله عليه وآله د اهلبېتو امامانوعليهم السلام چې دولس تنه دي نومونه بيان کړي دي او آخر کښې يې دا خبره سپينه کړې ده چې سني به هله پاکيږي چې

دا دولس امامان ومني او ورسره عشق وکړي چې نومونه يې په دا ډول دي: (ډالۍ: انور شاهين خانخېل د کتاب تصحيح کوونکی)

د جهـــان دولـــس امـــام دي

پـــه حديث کښې نام په نام دي

يـــو علـــيؑ دويـــم حسنؑ دے

بـــل حسېنؑ پـــاکيزه تـــن دے

څهـــارم زيـــن العـــابدينؑ دے

بـــل بـــاقـــرؑ ستنـــه د دين دے

بـــل جعـــفرؑ ورپسې هـــم دے

بـــل امـــام مـــوسی کاظمؑ دے

بـــل امـــام علـــي رضـــاؑ دے

محـــمـــد تقـــيؑ بـــل بيـــا دے

بـــل امـــام علـــي نقـــيؑ دے

بـــل حسنِ عســـکـــريؑ دے

بل امام، امام مهدي ؑ دے
چې د ټول جهان هادي دے
د بي بي زهرا ؑ اولاد دے
پشت په پشت داهسې ياد دے
پاک سني هغه آدم دے
چې د آل ؑ په عشق محکم دے

﴿والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾